مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲۶/۰۳/۲۶

# څودا پسرلی دی

ښکه په پټو پټو سترګو وهي چيغي
قتلوې نرګيسي پاڼي د ژوندون
ژوبلوې نارنجي وريځې د ښايست
سپين لاسونه دې دير وخت شو
د يوبې پلاره ماشوم د وينو بوی کا
ستا چوپتيا هم لکه مرګ داسي ترخه ده
ستا چوپتيا هم لکه قبر نيمه شپه کي
خپله خوله هميشه خلاصه وي نيولي
ته له کومي توري شپې يې راپيښ شوی
چي نازکي رڼاګاني پرې کوې په چړې داسي
ته به وايي زوړ مغل يې
په پښتون کړې ګوزارونه
د نفرت له کومه ښاره يې راغلی ؟
چي د عشق زخمي مرغی داسي په موټي کي کينکاږې
اې په خپل وجود کي ورکه!
قتل لاره د حل نه ده
څو سپرلی دی
په وژلو ګلابونه نه ختميږي
ژوند څراغ دی رڼايی ده محبت دی آبادي ده
تاته چا ويل چي ژوند مرګ دی
توره شپه ده
خودکشي ده ؟





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ